UNITED NATIONS NATIONS UNIES

**د امنیت شورا ته په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړي استازي وینا**

د جون ۳۰، ۲۰۱۰

**ښاغلی رئیس، د امنیت د شورا غړي،**

ښاغلي رئیس صاحب ډیره مننه. د خوشحالی ځای دی چې تاسو له خپل ماموریت څخه وروسته بیا دلته وینم.

له دې فرصت څخه په استفادې سره غواړم په افغانستان کې د ملګرو ملتونو په فعالتیونو او د افغانستان په اوسني چاپیریال کې په لومړیتوبونو باندې خبرې وکړم. زه به د معمول په خلاف لنډې خبرې وکړم، ځکه موږ د دې فرصت درلود چې د امنیت د شورا د لیدنو په وخت کې حاضرو اوسو او تاسې په خپلو سترګو ولیدل او په خپلو غوږونو مو واوریدل چې اوسنۍ وضعه په افغانستان کې څه ډول ده. په دې اړه زه ستاسې له کتنې څخه مننه کوم. دغه کتنه په ډیر مناسب وخت کې وشوه، ځکه چې زه درې میاشتې مخکې زما په نوې وظیفه ګمارل شوی یم.

سږ کال په واقعیت کې په افغانستان کې یو ډیر مهم کال دی، او زه فکر کوم چې له ستاسې څخه هر یو چې هلته تللی یاست همدا شان احساس به ولرئ. دا یو کال دی، چې موږ ټول د افغانستان د حکومت او خلکو سره یو ځای د دې هڅه کوو، چې د افغانستان حالات د ثبات لورې ته بوځو. هر یو په دې باور دی چې په هیواد کې د اوسنۍ وضعې څخه د خلاصون لپاره یوازې نظامي لار نشته. په دې لار کې باید نور ډیر څه وشي او دا هغه څه دي، چې موږ اوس ورباندې کار کوو. د دې لپاره چې نظامي بریاوې تل پاتې شي، افغانستان دې ته اړتیا لري، چې یو سیاسي لرلید ولري او هغه په خپله د افغانانو له خوا منځ ته راشي، د دوي په ذریعه پرمخ یوړل شي او دوی یې اختیار ولري. ټولنې هڅې باید یو ځای شي، څو په کافي اندازه یو مناسب سیاسي چاپیریال رامنځ ته شي چې د ډیریدونکې ناامنی په وړاندی د توازن لپاره داسی اشاره ورکړل شی چې افغانان د خپل مطلوبه راتلونکې لپاره ډیر مسوولیت په غاړه اخلي.

په دې کال کې ډیرې پیښې تنظیم شولې او په دې اړه موږ په سم لوری روان یو. موږ د لندن کنفرانس درلود، چې ډیر ګټور و. په دې کنفرانس کې نړیوالې ټولنې له افغان چارواکو سره خپل ملاتړ څرګند کړي. موږ د سولې مشورتې جرګه درلوده او په همدې شان مهمه او ډیر ګټوره پیښه وه ځکه دې جرګې هر یوه ته، افغانانو او نړیوالو

همکارانو ته د دې فرصت ورکړ او په دې پوه شول چې څرنګه کولای شو دیالوګ رامنځ ته کړو څو ډېر شمیر افغانان تر سپیني خیمې لاندې راغونډ کړو، چیرې چې موږ د سولې د جرګې په وخت کې راټول شوي وو.

بل ګام د کابل کنفرانس دی، چې د باندنیو چارو ډېر شمیر وزیران به هلته راشي او فکر کوم چې د ملګرو ملتونو عمومي منشي هم خپل حضور تایید کړی دی. دا کنفرانس به یو ګام پرمخ وي. اجازه راکړئ به لنډ ډول ووایم چې د کابل د کنفرانس تنظیموونکي په کوم لوري درومي. البته زه افغانانو ته اشاره کوم، موږ به د دی کنفرانس ګډه مشری په غاړه ولرو خو مشرتابه د دوي دی. د دې مفهوم یو قرارداد دی، زه تکراروم یو قرارداد دی، چې د افغانستان د خلکو او دولت ترمنځ کیږي او مشخص اجتماعي او اقتصادي پرمختګونه وړاندې کوي. له نړیوالې ټولنې څخه د دې تمه نه کیږي چې نورې مالي مرستې وکړي، بلکه تمه کیږي چې دوي له دې لومړیتوبونو سره، که موافق وي هغه مرستې عیارې کړی چې پخوا افغانستان ته ځانګړې شوې دي. دغه کار به څو ګټې ولري. یوه ګټه به یې دا وي چې د "افغاني کیدلو" مفکوره تقویه کیږي، چې نه یوازې په لفظ کې وي، بلکه باید مشخص او عملي فکټ ولري. او افغانان په دې باب ډېر ژور احساسات لري. دوي ډېر ویاړلی خلک دی او تاریخ دغه حقیقت ثابت کړی دی او نن ورځ خو دغه خبره نوره هم څرګنده شوه. دوي دې احساس ته اړتیا لري چې راتلونکي په حقیقت کې د دوی په لاسونو کې ده او دا یو ښه فرصت دی. که دوی مشخص پروګرامونه وړاندې کوي، دوی باید د دې حساس هم ولري چې کولای شي هغه رهبري کړي او په عین وخت کې د هغو د پایلو په اړه مسوولیت هم لری. دغه پیښه به په دونرانو باندې زور نه اچوي، ځکه په حقیقت کې د دې تقاضا کیږی چې اوسنی دوه اړخیزې مرستې له سره بیا عیارې کړي.

لکه څرنګه چې تاسې پوهیږئ، ښاغلی رئیس صاحب، ملګري ملتونه اوس مهال به دری جمع یو لومړیتوبنو باندې زور اچوي. موږ نه شو کولای چې هر څه ته ورسیږو، که موږ رسیدلی هم وای څه بریاوې به لاس ته نه وې راغلي. دری جمع یو لومړیتوبونه: ټاکنې، داخلي ډیالوګ، په سیمه ییزه کچه ډیالوګ او جوړونکي فعالتیونه او د مرستو همغږي. په دې کار سره به افغان چارواکي او نړیواله ټولنه وکولای شي چې افغانستان ته په نړیوالو مرستو کې همغږي راولي او د ګډوډیو مخه ونیسي.

ټاکنې: دا په افغانستان کې د ټولو مسلو مورده او په ریښتنې توګه د ټولو لپاره تیرې ټاکنې سمې پر مخ نه ولاړې.دا به له حقیقت څخه لیرې وي که چیرې ووایو چې سمې وې. هغه سمې نه وې او دا مهال موږ ټول هڅه کوو چې سره یو ځای کار وکړو. دغه ټاکنې به کاملا بشپړې نه وي او دا به هغسې ټاکنې نه وي چې تاسو یې په نورو هیوادونو کې ګورئ چې هلته دغه ډول ننګونې نشته، خو کیدلای شي، چې داسمې ټاکنې وي او دا به انشاء الله ښې ټاکنې وي. ولې؟ ځکه چې د هر چا له خوا په دې برخه کې څه زده شوې دي او دوهمه دا چې دا وخت به ډېر نظارت او څارنه وي، په داخل کې به دغه څارنه پخپله د افغانانو له خوا وي.

یوناما په دې وتوانیدله چې د دغه بهیر په یوه عمده برخه کې ونډه ولري. کیدلای شي چې ستاسي په یاد وي، ځکه چې ډېر څه له هغه وخته وشول، په اپریل کې د ستونزو او مشکلاتو وخت وو. هلته د جمهوري ریاست او ولسي جرګې ترمنځ بن بست او کړکیچ وو چې دې د ټاکنو بهیر ودرلو. هغه فورمول چې ملګرو ملتونو د ټولې نړیوالې ټولنې سره چې په کابل کې حضور لري په دې وتوانید ل چې د ټاکنو لپاره داسي لاربنود وړاندیز کړي چې د هر اړخ له خوا د منلو وړ وي. د دې پایله دا شوه، چې لومړی د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لپاره نوی رئیس او نوی د ټاکنو ټیم وټاکل شول؛ دوهم دا چې د دوو نړیوالو کمیشنرانو حضور چې د ټاکنو په خپلواک کمیسیون کې دي او د موافقت راوړلو د رایو حق لري؛ دریم، د ښځو نقش، دا واقعیت چې د ښځو لپاره ۶۸ څوکی ځانګړې او تضمین شوې، او که چیرې د هر لامل له مخې کله چې ښځې یوه څوکی له لاسه ورکوي، هغه به د بلې ښځې له خوا عوض کیږي او نه د نارینه له خوا. دې ټولو سره د بن بست او کړکیچ د ایسته کولو لپاره زمینه برابره شوه، او ټاکنې اوس پخپل اصلي لوری رواني دي. نوی کمیشنران خپلې سپارل شوې د ندې ترسره کوي. اوس موږ ۲۶۷۷ اعلان شوي نوماندان لرو چې د هغو څخه ۴۰۰ تنه یې ښځې دي، هغوي د ۶۸۳۵ د رایو د مرکزونو او ۱۹۹۴۲ د رایو اچووني د ځایونو لپاره کار کوي. ۳۰۰۰۰ نوو رایه ورکوونکو خپل نومونه ثبت کړي دي، موږ اوس ۱۲,۵ میلیون متوقعه رایو ته نږدې کیږو.

دا به آسانه نه وي. اساسي ننګونه: امنیت دی. او دوهمه ستره ننګونه: امنیت دی. ځکه که چیرې ټاکنې د زیاتو امنیتي ستونزو له امله خړې پړې شي چې د هغو له امله درایو مرکزونه وتړل شي او دا چې دې سره هغه خلک د رایو ورکولو څخه محروم شي چې کولای شي رایه واچوي. دا چې موږ اوس د سپتمبر ۱۸ نیټې ته نږدې کیږو، دا به موږ له نږدې څخه ګورو څو د افغان چارواکو سره مرسته وکړو چې ټاکنې پرمخ بوځي.

ملګري ملتونه او نړیواله ټولنه دوړاندې څخه او په فعالانه ډول خپل ملاتړ سرته رسوي، خو افغانان د دې بهیر مشرتوب لري. یو مثال یې د پلټنې پروسه ده او ستاسو څخه ځینې یې چې دلته په کابل کې وئ د هغو زیاتو خوځښتونو سره مو تړاو درلود چې د پلټنې او ارزونې لپاره ترسره کیدل. د ارزونې کمیسیون چې د کورنیو چارو د وزارت، د دفاع د وزارت او ملي امنیت له خوا یې مشرتوب کیږي د یو مهال لپاره یې ونه شو کړای چې هیڅ یو نوماند د ټاکنو له بهیر څخه وباسي. وروستنې خبرونه داسي دي چې د ۴۰ تنو نوماندانو لړلیک وړاندې شوی دی چې په کې بیلا بیل ولایتونه شامل دي. په دې اړه باید ژر تر ژره پریکړه وشي. دا د پام وړ پرمختګ دی څو دا تصور چې د پلټنې او ارزونې پروسه بشپړه او پریکنده نه وه له منځه ولاړ شي. موږ به د ټاکنو په اړه ستونزمنو حالاتو سره مخ کیږو خو زه په باور سره تاسو ته ویلای شم چې دا مهال هغه پریکړه چې د ټاکنو د کمیسیون له خوا شو ې ده د دې باور منځ ته راوړي او د هغو افغانانو په شمول چې د دې احساس یې درلود چې کیدلای شي ټاکنې په ناسم لوری ولاړې شي ټولو ته باور ورکوي. موږ به د دغه پل څخه هغه وخت تیریږو کله چې هلته ورسیږو او زه به د دې لپاره ستاسي ملاتړ هغه وخت چې د ستونزو سره مخ کیږو غواړم، خو د اوس مهال لپاره کارونه سم روان دي.

مذاکره: زموږ د توجه لپاره د مرکز د لومړیتوب ساحه. لکه چې تاسو پوهیږئ، دا باید چې د افغانانو له خوا رهبري شي او باید چې افغاني مشرتوب یې وشي، خو ملګري ملتونه د دې ظرفیت لري چې د دغه ډول بحثونو په لړ کې چې ترسره کیږی مرسته وکړي. یوه نمونه یې د حزب اسلامي د ګوند د پلاوی کابل ته سفر وو، چې دلته ملګرو ملتونو د جمهوري ریاست سره په همغږی کې د حزب اسلامي د پلاوي هر کلی وکړ. ملګري ملتونه دې ته چمتو دي چې د دغه ډول ډیالوګ په لار کې همکاري ولري. موږ دې ته په ښه نظر ګورو چې د باور درامنځته کولو په چارو کې نقش ولوبوو چې د تعزیراتو ۱۲۶۷ ګڼه لړلیک په کې شامل دی.

سیمه ییز: په دې اړه عمومي او د هر چا له خوا موافقه شته چې په افغانستان کې حقیقي، پایښت لرونکی پرمختګ تر هغو پورې ناشونی دی، چې که موږ متداومه او په جوړونکي توګه سیمه ییز لوبغاړي، شاملان، او نور له ځان سره و نه لرو. همدا وجه ده چې زه پخپله د سرمنشي د هدایت له مخې بیلا بیلو د سیمې هیوادونو ته لکه پاکستان، ایران او نورو ته سفرونه لرم، د دې لپاره چې دا باوري کړم چې موږ کولای شو د هغوي د اندیښنو خبر شو او په سم لوری د هغوي په اړه همکار ي ولرو. په دې لار کې ډیر ګټور نوښتونه په لار دي چې د داسې هیوادونو لکه ترکیې له خوا یې مشري کیږي، د نورو هغو هلو ځلو سره لکه د افغانستان په اړه د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ کنفرانس، د شانګهای نوښت او د دوبی بهیر چې د کاناډا د دولت له خوا یې ملاتړ کیږی دا کار روان دی . او ملګري ملتونه د وریښمو د لارې د نوښت چې یو ډیر په زړه پورې نوم دی ملاتړ کوي. خو په واقعیت کې دا له په زړه پورې والی او مرغوبتیا څخه زیات دي. د دې مانا دا ده چې هغه هیوادونه په دې کې را شامل کړای شي چې هغه د افغانستان سره جغرافیایي تړاونه لري خو دغه هیوادونه په سیاسي او تاریخي لحاظ د دې هیواد سره اړیکې لري. موږ په اقتصادي مسلو باندې کار کوو او همدارنګه په هغو مسلو باندې لکه مخدره توکي، ترانسپورت او یا انرژي هم کار کوو. دغه موضوعګانې د سیمه ییز ډیالوګ لپاره امکانات برابروي چې دا پخپل وار د دې سره مرسته کوی چې سیاسي خبرې اترې چې ورته اړتیا ده پرمخ ولاړې شي.

د مرستو تړاو: دا د مأموریت یوه برخه ده او یوه ستره اړتیا بلل کیږي. ښه خبره دا ده چې زمونږه څېړنې څرګندوي چې د څو اړخیزو او دوه اړخیزو مرستو تر منځ ډیر تناقضات، او تداخلات نشته. هغه څه چې اړین ده هغه دا ده چې افغان چارواکي باید لا زیات ملاتړ تر لاسه کړي چې دوی په خپله وکولای شي چې د کومکونو د انسجام دنده په غاړه واخلي. دلته مونږ یو میکانیزم لرو چې د د همغږی او څارنې د ګډ بورډ په نامه یادیږي، او که خدای وغواړي دا بورډ به د جولای په ۸ غونډه وکړي.

زه به د عمومي سرمنشي له طرفه د ګډ رئیس په ډول کار وکړم. د همغږی او څارنې ګډ بورډ بیرته راژوندی کولو ته اړتیا لري. د کومکونو د همغږی کولو لپاره بله موکه د کابل کنفرانس ده. که نړیواله ټولنه وکولای شي چې د کابل کنفرانس ته د ډونرانو د یو «بیاتنظیم شوی قرارداد» سره ځان حاضر کړي، زه ډاډمن یم چې دوی د کومکونو د انسجام په برخه کې بریا تر لاسه کوي.

د انتقال په اړه: انتقال په دې معنا چې له نظامي کنترول څخه ملکي کنترول ته لاړ شو – په ځانګړې ډول چېرې چې د ولایتي بیارغونې په ټیمونو پورې اړه نیسي - له نظامي څخه ملکي لور ته او له ملکي څخه افغان هیواد او افغاني وسیلو ته. دا کار به د ملګرو ملتونو د ملاتړ سره چې په ۲۱ ولایتونو کې د خپلو ولایتي او سیمه ییزو دفترونو – چې له ۷۰۰ سوه زیات نړیوال او له ۶۰۰۰ زیات داخلي کارکوونکي لري، ترسره کېږي چې افغانانو ته د امنیتي مسؤولیتونو په غاړه اخیستلو د وړتیا لوړولو په موخه زیار باسي.

نو په دې خاطر مونږ ډیر لیوال یو چې د یوې مالي کڅوړې په اړه ستاسو ملاتړ خوندي کړو چې کارکوونکو ته په افغانستان او عراق کې دا احساس ورکړي چې دوی د هغو نورو همکارانو انډول دي چې د نړی په نورو ارامو برخو کې کار کوي. په دې اړه زه د المان د حکومت څخه ډیر منندوی یم چې د با امنو آرامځایونو د جوړولو په خاطر یې داوطلبي وښوده.

شریکبانټوب: ستاسو دا پوښتنه به ډېر پر ځای وي چې ایا مونږ د ایساف، اروپایي اتحادیې او د ایساف د ملکي ستر استازی سره څنګه چلیږو؟ یو لنډ ځواب خو دا دی چط په ډیره ښه توګه. د د وه اړخیز ملاتړ احساس موجود دی. که څه هم زمونږه مأموریتونه او لومړیتوبونه سره مختلف دي، خو هدف مو یود دی. د یو «ګډ پیغام د رسولو» په خاطر همغږی کول، څو له تناقضاتو څخه مخنیوی وشي. زه غواړم چې تاسو ته بیا ډاډ درکړم چې دا سم لور ته خوځیدل دی په داسې حال کې چې مونږ هر یو د خپلې خپلواکي او بې طرفي ساتو او همدارنګه د یو بل د مأموریتونو درناوی کوو. زمونږ ګډ هدف دا دی چې د یوه باثبات افغانستان د رامنځته کولو لپاره کار وکړو په داسې حال کې افغاني فرهنګ، عنعنات، دودونه، خپلواکی او دین ته درناوی کوو.

په پایله کې باید ووایم چې ۲۰۱۰ کال به داسې یو کال وي چې پکې مونږ ټول دې ته اړ یو چې انعطاف منونکی او نوښتګر واوسو او د افغانستان د لومړیتوبونو درناوی وکړو. او په آخر سر کې، دا افغان دی چې باید د خپلو ستونزو لپاره خپل حل وړاندې کړي. د امنیت شورا لیدنه ډیره په موکه وه او د یوناما کارکوونکو ته یې ډیره روحیه ورکړه او د افغاني شریکبانو په منځ کې دا احساس رامنځته کړه چې نړیواله ټولنه د هغوي مسالو ژمنه پاتې ده.